مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۳/۰۵

# لوګي مخکې رڼا وروسته

زمونږ وطن ته لوګي مخکې، رڼا وروسته راځي
اول ژړا وي فرياونه، خندا وروسته راځي

وسلې راوليږي او غلې راته ووايي چې:
د دوی غم مه کوئ، دغه سخا وروسته راځي*

هغه سپوږمی ده، خو سپوږمی غوندې تنها نه راځي
تر مخ يې ډار د بيرته تلو وي او دا وروسته راځي

په کومو ګلو به ستا مينه ماتومه ګلې
سپرلي راځي، خو وايي ښکلې تر تا وروسته راځي

د تسبو لړ نه يوې ښکلې ته اميل جوړوي
لمونځ قضاء کيږي، نيت تړئ چې ملا وروسته راځي

يتيم مابښام پورې په خاورو کې لوبيږي وايي:
يوازې نه څمه خپل کورته، بابا وروسته راځي

دوی وايي وکړئ ګوزاره له ښامارانو سره
ډير زورور دي، کوه طور نه امساء وروسته راځي

1383/1/16
وزير اکبر خان مينه - ازادی راډيو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ